


# ښاري فرهنګ

د ښاري ژوند اصول او اداب

**ژباړه : میراحمد یاد**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ښاري فرهنګ

(د ښاري ژوند اصول او اداب)

راټولونه او ژباړه: میراحمد یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ترون

## د پښتني تهذيب په نوم

## ډالۍ

د ماشومتوب د هغه ملګري سپېڅلې اروا ته، چې نوم يې رانه هېر

خو د مرګ ورځ يې راته ياده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ایډیال ښار او عالي ښاریانو لرلو لپاره؛

## ټولې خبرې اورو

## او ښې خبرې یې منو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ځان او نورو د پرتلې لپاره خپل ځان معيار او مقياس ګڼه کو.

څه چې ځان ته خوښوو ، نورو ته يې خوښوو

او څه چې ځان ته نه خوښوو ، نور ته يې هم نه خوښوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





ظلم نه کوو ؛

همدا سې لکه ځان سره چې ظلم نه غواړو.

ښېګڼه کوو ، همدا سې لکه ځان سره يې چې غواړو.

ځان ته هغه څه بد ګڼو ، چې نورو ته يې بد ګڼو او خلکو ته

هماغه څه خوښوو ، چې ځان ته يې خوښوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې ځان بسنه نه کوي؛

اولادونه به هم بافرهنګه روزوو.

ځکه دوی چې ستر خلک شي؛ نو موږ به پرې فخر کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





مطالعه کوو؛

چې پوهه او معلومات مو زيات شي

او خبرې په دليل او منطق کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





که چا سره مشوره کوو او نظر ترې اخلو

نظر ته يې درناوی کوو ؛

نه دا چې توهين يې

وکړو ، يا يې په راکړي

نظر ورتېو.



(c) ketabton.com: The Digital Library





که یې پوښتلای ځای راته معلوم نه وي؛

په بې ځایه خواخوږۍ، له
نابلدانسانه لار نه
ورکوو.



(c) ketabton.com: The Digital Library





خبرې او چلند یوازې د خپل شخصي ذوق له مخې نه کوو ؛

د خپلې ټولنې اصولو ، قواعدو ؛

او انساني ارزښتونو ته درناوی کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د چا شخصي وسایل نه لټوو؛**

**له موبایل او کمپیوټر نیولې تر شخصي کتابچو او اسنادو.**

**مثلاً بې له اجازې د چا شخصي مسجونه نه لولو.**



(c) ketabton.com: The Digital Library





که موټر چلوو، روغتونو سره، کوڅو کې، هستوګنځايونو، کتابتونونو او نورو ځايونو کې بې ځايه هارنونه نه وهو.

د سلام، منني او نيوکې په خاطر هارن نه وهو ...

په ياد مو وي: زموږ د هارن غږ ټول خلک اوري او ښاريان ناارامه کيږي !!!



(c) ketabton.com: The Digital Library





عامه موټرو ته د ختلو پر وخت؛

لومړی هغو خلکو ته وخت ورکوو ، چې ښکته کیږي.

هغوی چې ښکته شي، بیا موږ موټر ته پورته کیږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په ټولنه کې د بدیو ( بد ګڼو ) له خپرولو ډډه کوو



کومه ګناه چې چا کړې وي؛

او څوک یې خپروي،

ټول په یوه اندازه ملامت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library







په پردي کور کې؛

بې له اجازې د هغوی خونو
کې نه ګرځو؛

یخچالونه نه پرانیزو، د
لباسونو الماری نه ګورو او په تخت کې یې نه ویده کیږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library






د موټر مخکې څوکۍ، سپین ږیرو او مېرمنو ته پرېږدو ؛

چې هغوی پکې ازاد او آرام ناست وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library







په ښاري بسونو کې؛

څوکیو پسې نه ګرځېږو ؛

که تشه څوکۍ وه کینو او د

اړتیا پر وخت یې ښځو یا

سپین ږیرو مشرانو ته پریږدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library







**خځلي هیڅکله بې ځایه نه غورځوو ؛**

**حتی په خپل کور، کوڅه، سرک او یا د ښار په یوه ګوټ کې هم.**

**د ښار پاک ساتل د ټولو ښاریانو ګډ مسئولیت دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library





عامه ځايونو کې په لوړ غږ خبرې نه کوو؛ خصوصاً په ملي بس او ټيکسيانو کې.

نور خلک اړ نه دي، چې زموږ خبرې واوري؛ کيدای شي هغوی دا وخت د فکر يا مطالعې لپاره وکاروي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





د ملي شتمنۍ او وسايلو په ساتنه کې هڅې کوو ؛

ځکه دا د کوم شخص يا ارګان شخصي وسايل نه دي، دا زموږ د ټولو ګډه پانګه ده.

زموږ د ملي بسونو څيرې شوې څوکۍ او يا پرې کش شوې کړښې او ليک ښايي هيڅوک ته خوند ورنه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په تمځای کې؛

موټر په داسې ډول نه پارک کوو ،

چې د بل موټر مخه بنده کړي، یا یې ویستل ډېر سخت شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





هر ځای؛

خصوصاً جوماتونو او نورو مقدسو اماکنو ته پاک او په اوداسه کې ننوځو؛ ځکه جماعت که مسجد الحرام وي او که د کلي ختېن؛ ټول د خدای کورونه دي.



درناوی یې کوو او له بوټونو سره نه ورننوځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جمعي پروخت منظم ودریږو ؛

په صفونو کې مخکې او وروسته نه کیږو ...

یو بل سره نږدې ودریږو ، دې سره نظم او مینه زیاتیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



په واټونو کې موټر بې ځایه نه ودروو ؛

هغه موټر چې ښي لاس ته تاویږي، د څراغ تر شنه کیدو نه ودریږي.
موږ دا سې ځای کې ودریږو ، چې ددې موټر لار خلاصه وي.

د زر رسیدو په خاطر یوازې د خپل ځان فکر نه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د موټر چلولو پر وخت په موبايل خبرې نه کوو.

دې سره موټروانې اسانه او ارامه وي او راپسې موټرو ته به رش نه وي.په ياد مو وي: نور خلک مجبور نه دي، چې زموږ د خبرو لپاره ودريږي، د خبرو لپاره په مناسب ځای کې موټر تم کوو.



(c) ketabton.com: The Digital Library





په جومات یا بل هر ځای کې، د عبادت او دعا پر وخت د نورو خلکو حقونو ته پام کوو؛

ځکه د بنده حق خوړل ګناه ده

مثلاً: په ډیر لوړ غږ دعا نه کوو، ډیر نه ګرځو، موټر بې ځایه نه پارک کوو او په بل چا د خپل عبادت احسان نه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library







اصراف نه کوو ؛

ځکه اصراف د اللّٰه ج نه خوښیږي.

حتی که د اودس په اوبو کې هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





ښې خبرې کوو او ښې يې کوو ؛

په خبرو کې نه يوازې دا چې ښه او ښايسته الفاظ کاروو ،
بلکې په محترمانه ډول يې کاروو:

مثلاً : هماغه دوه خبرې چې ، ډک شوې او موړ شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library







خلک په درنو الفاظو رابولو.

حتی په خپل کور کې، خپلو اولادونو ته هم که صیب، ښاغلی او آغلې ووایو ؛ په هغوی کې پر ځان باور پیدا کوي او بافرهنګه رالویږي.

اولادونو ته ستاسو احترام کیدای شي کوچنی ګام وي، خو اغیز یې ډیر دی، ویې ازمایئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library





هر وخت او هر ځای کې د نورو حقونو ته درناوی لرو.

په سپکاوي تول دردیږو:

مثلاً : د ډوډۍ اخیستو ، موټر ته ختو ، له جماته د وتلو ، یو ځای ته د ننوتلو ... ددې ټولو پروخت که مو څوک نوبت نیسي دردیږو. راځئ یو بل نه دردوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library







یو بل سره مرسته کوو ؛

ماشوم سره له سرکه په اوښتو کې؛ زړې ښځې سره د پنډ په وړلو کې؛ ړندو سره په لاره تللو کې؛ موټروانانو سره د موټر په جوړولو یا ټیله کولو کې...

په دې کار به تر ټولو موږ او زموږ خدای خوشاله شي ؛ باور وکړئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ډوډۍ خوړلو پر وخت تادي نه کوو ؛

خپل قاب دومره نه ډکوو ، چې وروسته رانه اضافي پاتې شي.

خواړه په څو مرحلو کې را اخلو ؛ دومره را اخلو چې خوړلای يې شو.

پام وي: اصراف نه کوو ، اصراف حرام دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ډوډۍ پر وخت چاته سترګې نه نیسو؛

ډیر ورته نه متوجې کیږو

او مېلمه ته د خوړو په صفت کې افراط نه کوو.



(c) ketabton.com: The Digital Library





هر ځای کې چې یو ، د هغه ځای قوانینو او مقرراتو ته درناوی کوو ؛

په خپل زړه خبرې او چلند نه کوو

که د ملګري کور کې یو ، که دفتر کې یو او که بهرني هیواد کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library





کتاب تر لوستلو وروسته بیرته په خپل ځای ږدو.

که په جوماتکې قرانکریم لولوو ، بیرته یې خپل ځای ته رسوو

د کتابونو درناوی کوو ، قران د الله سپیڅلی کتاب دی، درناوی یې

په موږ فرض دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**میلمستیااوو ، غونډو او مجلسونو ته د ننوتلو پر وخت؛**

**په مخکې او ښو ځایونو پسې نه ګرځیږو.**



(c) ketabton.com: The Digital Library







درک کوو چې ؛

سګرټ څکول

په ځنډ راتلل او

بهانې کول... یو هم د ښه شخصیت ښکارندويي نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





پام کوو ؛

چې د خوړو پر وخت مو خوله غړ ونه لري

او د په ډکه خوله خبرې نه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





## تر ډوډۍ خوړلو وروسته ؛

د ټولو خلکو په مخ کې، غاښونه په ډکو ، تار یا کاغذ نه پاکوو.

د غاښونو پاکول مهم دي، خو ځای پیژندل تر ده ډیر مهم.

(c) ketabton.com: The Digital Library







منفي ګړا؛

غیبت کوونکو ؛

کیسو پسې ګرځیدونکو

او دروغجنو خلکو ته ډیر پام نه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د هغو خلکو او موضوعاتو په اړه قضاوت نه کوو

چې

په اړه يې د قضاوت صلاحيت نه لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





موټر نا څاپه د تم کولو ، تاوولو یا بل څه لپاره نه ودروو

ښايي را پسې موټر ټکر وکړي؛

په یاد ولرئ: اشارې د وروستي موټر لپاره لارښوود دی، تادي نه کوو ، اشاره روښانوو او بیا څو متره وړاندې غاړې ته ودریږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**په ملي بس کې خپل ځای ؛**

**د میرمنو او مشرانو تر څنګ دې خلکو ته هم پرېږدو ؛**

- **ناروغ**
- **هغه ماشوم چې درنه بکسه یې په شا وي.**
- **هغه عسکر چې په رخصت راغلی وي**

(c) ketabton.com: The Digital Library





په دروغجنو خلکو؛

نه باور کوو او نه ورسره ملګري کوو.

دوی په ټولنه کې تر ټولو بې ارزښته خلک دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library







ماشومانو ته دروغ نه وايو ؛

کومې وعدې چې ورسره کوو

تر يوه حده يې عملي کوو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلکو شخصي حریم ته درناوي کوو

په شخصي حریم کې یې د مداخلې حق نه لرو ؛ مثلاً

که د کوم کور دروازه بیرته وي، نه ورګورو ... ځای ته بې

اجازې نه ننوځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د پیاده ښاریانو په اړه فکر کوو ؛

موږ چې سترې یو ، زړه مو غواړي چې ملي بس راشي، یا مو څوک موټر کې پورته کړي.

موږ چې په موټر کې یو ؛ نو همدې احساس ته په کتو ، تر خپله وسه خلک موټر ته پورته کوو او تر ځایه یې رسوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library







## په کاري چاپیریال کې

د منفي رقابت پر ځای یو بل سره مرسته او همکاري کوو.

خپلې تجربې له نورو سره شریکوو ؛ چې هغوی هم ترې په ګټه پرمختګ وکړي او دې کار ته له نورو سره دوام ورکوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library







هیڅوک دښمن نه ګڼو، د چا په اړه چې
معلومات نه لرو، ښه ګومان پرې کوو.

هر چا ته درناوی لرو، تر خپله وسه ورسره
مرسته کوو.

بې له کومې تمې، منت او احسانه ورسره
مینه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





دوه کسان چې په ټيټ غږ خبرې کوي؛

يا يو کس په موبايل خبرې کوي؛

موږ يې خبرو ته غوږ نه نيسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د کومې ښځې یا نارینه د شنډتوب ( بې اولادۍ )

په اړه دېرې پوښتنې او پلټنې نه کوو.

دا د هغوی شخصي ژوند او شخصي مسله

ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library





هڅه کوو ، چې په ګډه (یوځای ) ډوډۍ وخورو

نورو سره یې یو ځای پیلوو او یو ځای یې
بس کوو.



که موږ د کوربه په حیث له ډوډۍ ژر پورته
کیږو ، د میلمه ډوډۍ خوراک ناراحته
کیږي. همدارنګه د دسترخوان په خپرولو او ټولو کې مرسته کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





پلاستیک، ښیښه، کارتنونه او نور... دا شیان له منځه نه ځي؛

نو ځکه یې خځلې نه شو ګڼلای.

د چاپیریال ساتلو په خاطر ، دا شیان له خځلو سره یو ځای نه اچوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په هیڅ ځای، هیڅ وخت، هیڅ ډول، هیڅ بهانه او هیڅ لاره د خلکو ویرول او ځورول؛ هیڅ جواز نه لري، له دې کاره ډډه کوو.

هیڅ دلیل نشته دی، چې بل څوک دې هم د کریکټ یا فوټبال د ګټلو په ناڅاپي خوشالۍ کې درسره شریک شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





بې له اجازې ؛

د خلکو په کور، دیوالونو او دروازو خبرتیاوې نه سریخوو.



(c) ketabton.com: The Digital Library







لیفټ کې ؛

تر ټاکلي شمېر ډیر کسان نه سپریږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library







که چېرته نه ځو؛

د سرک پر غاړه نه ودرېږو.

که د احترام له مخې راته کومه
ټیکسي ودرېږي.

په مهربانه اشاره يې پوهوو، چې ټیکسي ته نه يو ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library





هغه ځیرکتیا چې د بل حق تر پښو لاندې کوي، ځیرکتیا نه ده. دا د خپلې ګټې لپاره په نورو ظلم او زیاتی دی.

ځیرکتیا هغه ده، چې نوبت وشي، د نورو خلکو حقونه سلامت پاتې شي او انسان ته ګټه ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





که شمیره مو غلطه کړې وي؛

او مقابل کس راته ووایي چې شمیره مو ناسمه ده.

سمدستي اړیکه نه پرې کوو ، ښښنه ترې غواړو او تر خدای په امانۍ وروسته اړیکه پرې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په شخصي او عمومي ځايونو کې ؛

د خبرو پر وخت سخت، سپک او ترخه لغتونه، نه کاروو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د نورو خلکو په کمزوریو ملنډې نه وهو**

**ځکه زمونږ په توهین د هغوی کمزوری نه ختمیږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**په یاد مو وي؛**

**پیاده رو د پلې خلکو لپاره دی او سرک د سپرو خلکو لپاره.**

**که موټر، بایسکل یا موټر سایکل راسره وي، په پیاده رو نه ځو**

**او که پیاده یو په سرک نه ګرځو.**



(c) ketabton.com: The Digital Library





ځانځاني او موزيتوب نه کوو ؛

ژوند يوازې نه کيږي.

له نورو خلکو سره ګډه همکاري کوو ، يوازې د ځان غم نه کوو.

او له ځان سره د نورو خلکو ګټې ته هم ګورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





پر څېره، لهجه، رنګ او نورو طبیعي توپیرونو ملنډې نه وهو؛

هیڅکله ځان پر نورو ستر او غوره نه ګڼو

مګر په انساني او اخلاقي ارزښتونو کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library





هڅه کوو ، چې راسپارل شوی مسئولیت به ، بې له نیمګړتیا وو پوره کوو.

پر خپلو وعدو عمل کوو ، ښه عمل پرې کوو او جزیاتو ته یې پام کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تګ راتګ کې هڅه کوو

چې د شخصي موټر پر ځای له عمومي موټر ګټه واخلو

ځکه ؛ د پاکې هوا تنفس زموږ حق او ساتل يې زموږ

مسئوليت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# په باراني هوا کې

د موټرچلولو پر مهال او بو او خپل رفتار ته پام کوو ؛

چې پياده خلکو ته اوبه ونه شيندو او خفه يې نه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





امانت ښه ساتو او بیرته یې سلامت تسلیموو ؛

مثلاً که له یو چا کتاب، مجله یا بل کاغذ امانت اخلو ؛ کرښې پرې نه راکاږو .

(c) ketabton.com: The Digital Library





کله کوم چا موټر امانت اخلو

د دې مهربانۍ په بدل کې يې لږ تر لږه په موټر کې بيرته تيل وراچوو.

دا د منني تر ټولو ښه لاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library





موټر ته د سرک له منځه نه پورته کیږو او د سرک په منځ نه ښکته کیږو ؛

حتی که موټروان راته راباندې ټینګار کوي، هم رد کوو او غوښته کوو ، چې موټر دې د سرک غاړې ته ودروي.

پام مو وي: موټروان بې ځای یه توقف ته نه اړباسو او د نورو خلکو په حق خوړلو کې نه شریکیږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





مهمې اړیکې بې دلیله نه پرې کوو ؛

کیدای شي دا کار مو د چا د کور وران کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





که ګناه زموږ وي، ښښنه غواړو ؛

په دلایلو او بهانو پسې نه ګرځو.

خپله ګناه هیڅکله د بل په غاړه نه اچوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د خلکو شخصي معلومات؛ مثلاً**

**شميره، پته، ايميل ادرس او نورو ... يې بې له اجازې نورو سره نه شريکوو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library





## د خلکو ښه کارونه

ترنورو خلکو په پوره صداقت رسوو.

دي سره په ټولنه کې ښه کارونه راوجيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





له بهرنیانو سره داسې چلند کوو

چې زموږ چلند ورته یوه ښه خاطره پاتې شي.

ښايي دا کار مو په هیواد کې سېلانیان زیات کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټولنیزو شخړو او لانجو کې؛

د سیل پر ځای هڅه کوو، چې هواره یې کړو.



(c) ketabton.com: The Digital Library





ځه چې زموږ مربوط نه دي، مداخله پکې نه کوو

او په کومه برخه کې چې تخصص نه لرو ؛

په اړه يې نظر نه ورکوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د نورو خوښیو ته داسې درناوی کوو ، لکه موږ یې چې خپلو ته غواړ.

او

د نورو خفګانونو ته هم هم داسې درناوي کوو ، لکه موږ یې چې خپلو ته غواړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مو د چا ستونزه ورحل کړه؛

بیا پرې احسان نه کوو... او که پکې ښکیل نه یو ، امر
او نهي کولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د موټر چلولو پر وخت:

د سرک له یوه قطاره بل ته نه اوړو... په دې کار زر نه رسیږو ، ښايي هیڅ ونه رسیږو.

پام مو وي: چې یوازې د خپل ځان په اړه فکر نه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په خپلو مراسمو کې؛

مجبور نه یو چې ناوړه ټولنیز دودونه ترسره کړو.

هڅه کوو ، چې مراسم اسانه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





## د واده پر وخت ؛

د موټرو په قطار لاره نه بندوو ، چیغې نه وهو ، شور نه کوو.

ښايي په يوه امبولانس کې ناروغ پروت وي، يا چيرته کوم څوک استراحت کوي. پام وي، دا يوازې ځانغوښتنه ده او د داسې يو ژوند پيل دی چې نور مو پرې وځورول.

(c) ketabton.com: The Digital Library





دا تمه نه کوو ؛

چې ټول خلک دې زموږ له خوښې سره سم چلند وکړي.

دا تمه ؛ یعني ځانغوښتنه !

(c) ketabton.com: The Digital Library





## د خلکو د خندولو لپاره ؛

په نورو تورونه نه پورې کوو ، په چا ملنډې نه وهو او د نورو توهین نه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





که څوک ستونزه یا نیمګړتیا لري؛

پټ او په مهربانه لهجه یې ورته وایو...

ځان پرې لوړ نه ګڼو او د هغه د سپکاوي په خاطر یې ورته نه وایو.



(c) ketabton.com: The Digital Library





# په خپل سر درمل (ګولۍ، شربت او نور...) نه کاروو !



(c) ketabton.com: The Digital Library





که څوک عکس اخلي؛

د کامرې مخکې نه تيرېږو.

همدارنګه ، که دوه کسان خبرې کوي، تر منځ يې نه تيرېږو
او خبرې يې نه پرې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**په سفر کې داسې وسو ؛**

**چې خلک مو د اصلي هستوګنځای په اړه منفي فکر ونه کړي.**

**ځکه موږ په هر ځای کې، د خپل اصلي هستوګنځای استازيتوب کوي.**



(c) ketabton.com: The Digital Library





که پر یو بل نقد لرو ؛

سپین، ښکاره او په مهربانۍ یې وایو

پر یو بل ملنډې نه وهو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





مینه دوه اړخیزه وي؛

که له یو چا سره مینه لرو ، دا تمه نه کوو ، چې هغه دې هم حتمن را سره مینه ولري.



(c) ketabton.com: The Digital Library





په موټر، تشنابونو او نور ځايونو کې نوبت مراعتوو ؛

ښايي يو چا تر موږ ډېر انتظار کړی وي ... يا يې کار تر موږ ډېر اړين وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





خلک د لباس، مېنې او ظاهري وضعې؛

له مخې نه پېژنو او په اړه يې سمد ستي پرېکړه نه کوو.



(c) ketabton.com: The Digital Library





# هغه خبر یا نظر نه خپروو ؛

# چې سرچینه یې موثقه نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





## هيڅکله له سور څراغه نه تيرېږو ؛

ځکه دا د هغو خلکو حق خوړل دي، چې شين څراغ ته هم ولاړ وي.

موږ ګورو ، چې زياتره وخت څراغ شين وي، خو موټر حرکت نه کوي، ځکه چې کوم څوک له سور څراغ تير شوی او موږ بايد هغه کس نه يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ناڅاپي پېښې پر وخت ؛

بېړنۍ پرېکړه نه کوو ، سمدستي نظر نه ورکوو او يو بل ته توهين نه کوو.

د ملامت او سلامت په اړه قضاوت يې اړوند شخص ته پرېږدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د موضوع یا خبر هغه برخه نه راخلو؛

چې چاته د توهین یا زیان لامل کېږي.

ځکه دا کار په معلوماتو رسولو کې بې انصافي او د یوه کس په حق کې ظلم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





داسي خبري نه کوو ؛

چې دوو کسانو د ټکر مستقیم یا غیر مستقیم لامل کیږي.

د تور او غیبت پر وخت یوازې سیل نه کوو او غبرګون ښیو.

عامو ځایونو کې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library





ټيليفون لوړې خبرې نه کوو ؛

هر ښاري خپل بوخت ذهن لري، زموږ خبرې ورته ښايي مزاحمت وکړي، موږ نورو ته مزاحمت نه کوو.

هر وګړی ارام چاپيريال خوښوي، نه له شوره او ځوږه ډک.



(c) ketabton.com: The Digital Library





د لوبو خصوصاً کریکټ او فوټبال پر وخت ؛

د لوبغاړو او لوبڅاراونو پریکړه په سپکو ټکو او کنځلو نه غندو.



(c) ketabton.com: The Digital Library





سور څراغ ته، د پیادرو په کرښه نه ودریږو ؛

دا د هغو پیاده خلکو په حق تیری دی، چې د سور څراغ پر وخت باید له سرکه واوړي.



پام مو وي: دې ټکي ته پام به مو د ښار له نظم سره واټونو ته هم ظاهري ښایست ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په مخامخ او ټیلیفوني خبرو کې؛

خواړه او ژاولې نه ژویو...

دا کار مو مخاطب ته سخت سپکاوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټوخي، پرنجي، اسويلي او خوله وازي پر وخت؛

خوله پټوو او تر خپله وسه هڅه کوو، چې ټوخی او

پرنجی مو په ارام وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بل چا بې فرهنګي؛

# زموږ د بې فرهنګۍ توجیه نشي کیدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library





## خپله پوهه؛

نورو ته نه ښایو او حسان پرې نه کوو.

موضوع داسې مطرح کوو ، چې غرور او لوړاوی پکې ځرګند نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په روانو اوبو کې؛

خپل موټر، کالي لوښي او نور وسایل نه مینځو ...

دې سره اوبه چټلیږي او پاکې اوبه د ټولو حق دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په پارکونو او عامه ځايونو کې؛

بوي ناکه خواړه نه پخوو ... په ځانګړي ډول کباب او وريته غوښه ... ددې خواړو خوړل غريبو خلکو ته سخت وي... د ځان تر څنګ د نورو په اړه هم فکر کوو.

د کبابو بوي، د موړ انسان پام هم ځانته راګرځوي، وږی خو لا پريږدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په لاندې ځايونو کې بې ځايه او بې ضرورته نه ودريږو.

د لارې پر سر، د پُل پر سر، د تبليغاتي لوحو مخې ته، داسې ځای کې چې ګڼه ګوڼه جوړيږي.

دا کار په دې معنا دی، چې يوازې زه مهم يم، نور نه ! ... دا بې ځايه ولاړه هره ورځ نورو خلکو ته ستونزې پېښوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که موټر چلوو ؛

هغه خلکو ته لاړ ورکوو ، چې له سرکه اوړي.

نه دا چې سرعت زیات کړو او هغوی بې جراته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





غیر له خپل کوره؛

په نورو کورنو کې دا حکم نه کوو ، چې کوم ټلویزوني چینل ونیول شي، ټلویزیون دې بند شي او یا دې ریموټ مو ږ په خپل لاس کې واخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





که په کور کې میلمانه وي؛

ټلویزون یوازې په خپله خونه نه ګورو.

د هغوی نظر ته احترام کوو ، یا ټلویزیون بندوو ، یا داسې کوم څه ګورو ، چې ټول ورسره حد اقل علاقه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





## د چا له اخلاقو ناوړه ګټه نه اخلو ؛

په پښتو کې وايو ، که چا لاس راکړ ، له بيخه يې نه پرې کوو.

هسې نه چې مقابل کس په خپله کړې نيکۍ پښېمانه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل چاپيريال سره بې تفاوته چلند نه کوو.

ستونزې حل کوو ؛ ګني هغو سره مرسته کوو ، چې ستونزې حل کوي.

يوازې غندې او بدرد ويل ګټه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





پیسې او شتمني ؛

هیڅکله د شخصیت نښه نه وي.

نو خپلې پیسې او شتمني په بېلابېلو لارو چارو نورو ته نه ښیو.



(c) ketabton.com: The Digital Library





له خلکو شخصي پوښتني نه کوو ؛

مثلاً معاش، عايد ، کورنی ژوند او نور ... .

(c) ketabton.com: The Digital Library





هڅه به کوو ، چې مثبت فکر وکړو ؛

منفي خبرې، اوازې او موضوعات نه خپروو ، د ښه

ذهن لرلو لپاره هره ورځ ورزش کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په ټولنه کې د نورو ناموس ( خور، مور، میرمن ) ته داسې نظر کوو؛

لکه خپلو ته یې چې غواړو.

پام مو وي: څه چې کرو؛ هماغه به ریبو.

(c) ketabton.com: The Digital Library







که هره ورځ غاښونه برس یا مسواک
کړو ؛ د خولې بد بوی مو له منځه ځي او
نورو خلکو ته ستونزې نه جوړوو... تر
څنګ مو شخصیت هم ښه پاتې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





پـه میلمستیاو کې؛

خواړه یوازې له خپلې مخې اخلو...

تادي نه کوو ، د هر څه د خوړلو هڅه نه کوو او د نورو خلکو

له مخې قابونه او نور وسایل ځان ته نه راکش کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





له سرکه په وړو قدمونو ( اهسته ) برو نه اوړو ؛

خصوصاً هله چې موټر راته تم شوی وي.

ځکه دا په قلاره تګ له یوې خوا موټروان په غوسه کوي او له بلې خوا په دې نیکۍ دومره پښېمانیږي چې ښايي بیا يې هیڅ تکرار نه کړي. نو پام وي وي، چې په خپلو کارونو د نیکیو مخه نه نیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





که مو چاسره د لیدو ژمنه وکړه؛

ځان په وخت ور رسوو ... که په کوم دلیل ونه رسیږو ... مقابل کس ته خبر ورکوو.



(c) ketabton.com: The Digital Library





که تبليغاتي پاڼو ته اړتيا نه لرو ؛

نه يې اخلو او څو دقيقې وروسته يې بيرته نه غورځوو.

که په کار مو نه وي نه يې اخلو ، که مو اخيستی وی او پوه شو په درد مو نه خوري؛ نو په مناسب ځای کې يېږدو ، يا يې بل اړمن کس ته ورکوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپل حده ډیر شور او لوړ غږونه نه کوو ؛

مثلاً په کورکې د تلویزیون غږ، د ماشومانو چیغې او نور.

آرامتیا د هر ښاري قانوني حق دی او په دې کار یې ترې اخلو.

نو د ژوند په چاپیریال کې د نورو حقونو ته احترام لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د خپل چاپېریال پاکوالي ته پام کوو ؛

زموږ د کور کوڅو د ټولو خلکو ملکیت دی، که د خپل کور مخکې ونې او بوټي وکرو ، د کوڅې نورو خلکو ته ارامتیا ورښښو.

نو هڅه کوو ، چې نورو ته ارامتیا او خوښي ور وښښو او ...

(c) ketabton.com: The Digital Library





چنې نه وهو ؛

په ځينو مغازو کې د توکو بيو له مخې تاکل شوې وي.

په داسې ځای کې چنې وهل کومه معنا نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په مجلس کې نورو خلکو خبرې نه پرې کوو ؛

ځکه هر څوک دا حق لري چې د نورو په اندازه خبرې وکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





**د تیلو په پمپ کې؛**

په موټر کې زر تیل اچوو او زر روانیږو.

چې په نوبت کې نورو خلکو ته زر نوبت ورسیږي او حق یې ونه خوړل شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





په ادارو کې د خپل کار د زر ترسره کولو لپاره؛

چیغې او شور نه کوو ... ځکه په دې کار د نورو مراجعینو وخت تلف کیږي.



ښایي په مراجعینو کې داسې خلک هم وي، چې اونۍ اونۍ په تمه ناست وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مشرانو سره مرسته کوو او په دې باور لرو چې زموږ کار زر ترسره کیږي.



په ادارو کې نابلده مراجعینو ته سمه لارښوونه کوو.

دا ټول کارونه د صدقې یو ډول دی او د ښاریانو تر څنګ د خدای رضا هم ترلاسه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





کەودانۍ جوړوو؛

پەخپلو وسایلو ( سیخ، سیمټ، شګه ، خښتې ) عامەلارەاو کوڅەنە بندوو.

اخطاري نښې نښانې نصبوو ، چې خپل حدود معلوم کړو.

اوبە، تیل، وریجې، ډوډۍ .... هرڅەد خدای نعمتونەدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د خدای په نعمتونو کې ناشکري او اصراف نه کوو ؛

ځکه خدای به یې رانه بیرته واخلي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





هیڅکله خدمتګار او چپړاسي ؛

بې له (ښاغلي او اغلې ) نه رابولو ... دا د هغوی توهین دی.

په مهربانۍ ورسره خبرې کوو.



(c) ketabton.com: The Digital Library





ټول القاب د شخصیت ښکارندويي
نه کوي.

خلکو ته د عادت له مخې بې ځایه د
ډاکټر، انجینر او استاد خطاب مه
کوئ.

دا کار مو په ټولنه کې د تحصیلي زیار ارزښت راکموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library







خپل ظاهري حالت ته پام کوو.

ټولنه له افرادو جوړه ده، موږ هر یو د ټولنې یوه برخه یو، موږ چې څومره منظم یو ټولنه به همدومره منظمه وي.

رسمي ادارو ته له مراجعې د مخه ځان ته پام کوو، چې ښه منظم لاړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په تاريخي ځايونو، ديوالونو، تشنابونو، ونو او نورو ځايونو کې يادګارونه نه ليکو... دا د ښه ښاري فرهنګ ښکارندويي نه کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





د سرک د غاړې د لارښوونې لوحو ته درناوي کوي.

په دې باور کوو ، چې دا هر څه بې ګټې نه دي، هر یو یې یو ځانګړی پیغام لری. دا زموږ د لارښوونې لپاره نصب شوي؛ نه د ښار د ښکلا لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ترافیکي پېښي پروخت؛ لارې نه بندوو.

موټر د سرک غاړې ته ودروو او د قانوني مسولیتنو راتګ ته په تمه پاتې کیږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قطار کې د اودریدو پر مهال؛

د کسانو تر منځ ټاکلی واټن مراعتوو او بل چا ته مزاحمت نه کوو.



(c) ketabton.com: The Digital Library





سیګرټ نه څکوو ؛

که یې پرېږدو ، نو په عمومي ځایونو کې یې نه څکوو.

رسمي ادارو ته د ننوتلو پروخت سیګرټ له دروازې بهر پرېږدو او د ننه وړلو ضد یې نه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په کتابتونونو او نورو ارامو ځايونو ( قهوه خانو ، رستورانتونو ... ) کې شته ارامې فضا ته درناوی کوو.

هلته په خپل تګ غالمغال نه کوو او خلک ځان ته نه متوجې کوو.



(c) ketabton.com: The Digital Library





کورنیو څارویو او مرغانو ته زیان نه رسوو؛

ټول د الله تعالی مخلوق دی او الله ورسره د مهربانۍ امر کړی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library





هر ډول ازموینه کې په ټګۍ د بریا غوښتنه نه کوو.

په ازموینه کې ناکامیدل تر ټګۍ ډیر شرافتمندانه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په وخت ویده کیږو او په وخت پاڅیږو.



(c) ketabton.com: The Digital Library





په اسانه ګټه پسې نه ګرځو ؛

هغه پیسې چې په زیار ترلاسه کیږي ارزښت یې تر هغو لوړ دی چې مفتې او په اسانه ترلاسه کیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





که د کور خاوندان یو ؛

له کرایه نشین سره سختي نه کوو ، په هره موضوع کې پرې فشار نه راوړو او سر خوږی ورته نه جوړوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## که کرایه نشین یو ؛

په خپلو وعدو وفا کوو او داسې هیڅ کار نه کوو ، چې د کور خاوند یې له امله بل کرایه نشین ته ستونزې جوړې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





## که لوی موټر چلوو ؛

د نورو ورو موټر خاوندانو او عامو خلکو ته مزاحمت نه کوو ، د هغوی فکر کوو ، هارنونه ورته نه وهو ، نه يې ويروو او د خپل موټر له لويوالی ناوړه ګټه نه اخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





پـه موټر کې پـه لوړ غږ موسيقي نـه اورو ؛

نورو خلکو تـه مزاحمت نـه کوو ، داسې خواړه نـه خورو چې

نورو خلکو تـه ستونزې جوړې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





که معیوب یا معلول یو ؛

په نورو خلکو احسان نه کوو ، یا دا فکر نه کوو چې ګني حق پرې لرو.

له هر چا د ښو تمه نه لرو او په دې تمه نه یو چې هر څوک دې موږ سره ښېګڼه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





که روغ یو ؛

دا فکر کوو ، چې که موږ معیوب وای څه به مو کول؟

معیوبین او معلولین درک کوو او مرسته ورسره کوو.

پام مو وي: چې هغوی نیمګړي دي او پوره خلکو ته سترګې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





که کارمندان یو؛

د چاکور ته د ورتلو پر وخت په شخصي وسایلو کار نه لرو. خپل د اړتیا وړ وسایل ځان سره وړو. د خلکو ناموس ته د خپل ناموس په څیر احترام لرو.



(c) ketabton.com: The Digital Library





د دوکاندارن یو ؛

خپل حد پیژنو ، پیاده رو نه بندوو ...

فکر کوو ، چې که ټول خلک خپل وسایل په پیاده رو کیږدي نو پیاده رو به پاتې شي؟ پیاده رو خپل ځانګړی تعریف لري ، یعنې د پیاده خلکو د تلو لار ، موږ د هغوی لاره نه بندوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که کسبګر یو ؛

د پېرودونکو د رابللو لپاره چیغې نه وهو ؛

فکر کوو ، چې که ټول خلک د پیرودونکو لپاره همدا سې چیغې ووهي نو په ښار کې به څه حال جوړ وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library





که میوه یا ترکاري اخلو ؛

ټول ښه یې یوازې ځان ته نه اخلو ، که موږ یوازې ښه و اخلو نور به څوک اخلي؟

که څوک لاس راکړي له ښېخه یې نه پرې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ځان او نورو د پرتلې لپاره خپل ځان معيار او مقياس ټاکو؛ څه چې ځان ته خوښوو، نورو ته يې خوښوو او څه چې ځان ته نه خوښوو، نور ته يې هم نه خوښوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





ظلم نه کوو ؛

همدا سې لکه ځان سره چې ظلم نه غواړو.

ښېګڼه کوو ، همدا سې لکه ځان سره یې چې غواړو.

ځان ته هغه څه بد ګڼو ، چې نورو ته یې بد ګڼو او خلکو ته

هماغه څه خوښو ، چې ځان ته یې خوښوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





یوازې ځان بسنه نه کوي؛

اولادونه به هم بافرهنګه روزوو.

ځکه دوی چې ستر خلک شي؛ نو موږ به پرې فخر کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# دا کوچنی کتاب لولوو

# نوره خپله هڅه کوو

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**